DAILY
اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۶۶۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

لسم کال - دویمه دوره، ٦٦٥ مه ګڼه، پر له پسې ګڼه ۱۷۳۳ د ۱۳۸۸ ل ـ د مرغومي ۳ مه - دپنجشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۷ مه د ۲۰۰۹ د ډسمبر ٢٤ مه

PROPERTY OF ACKU

د خبریالانو پروړاندې تاوتریخوالی ډېر شوی

په افغانستان کې د (نی) په نامه د رسنیو د ملاتړ یوې ټولنې په ډاګه کړې، چې په روان میلادي کال کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۸۵ پېښې شوي دي.
دا شمېره د تېر میلادي کال په پرتله ۷۰ سلنه زیاتوالی ښيي. دغه ټولنه وايي د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ګنې پېښې. د حکومتي چارواکو او په ځانګړې توګه د افغان پولیسو له لوري تر سره شوې دي. د (نی) په نامه د رسنیو د ملاتړ ټولنې روان میلادي کال په افغانستان کې د خبریالانو لپاره له تاوتریخوالي ډک کال بللی دی.
د دغې ټولنې د چارواکو په وینا د تاوتریخوالي په دغو پېښو کې د خبریالانو پر وړاندې ۱۱ پېښې د طالبانو او ۱۳ نورې یې د نامعلومو وسلوالو کسانو له لوري تر سره شوې دي. کله چې رسنی حقایق، د حکومت نیمګړتیاوې او په نظام کې ۳مخ

افغانستان د لندن د کنفرانس لپاره طرحې جوړوي

د برتانیا لومړي وزیر ګورډن براون له ولسمشر کرزي سره د لندن د کنفرانس د اجنډا په تړاو ټیلیفوني خبرې کړې دي. ټاکل شوې ده چې د لندن کنفرانس به پر ۲۰۱۰ کال د جنوري په وروستیو کې جوړ شي، چې له افغانستان سره مرستندوی هېوادونه به یې برخوال وي. د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر وايي، چې دا مهال یو شمېر لوړ پوړي افغان چارواکي د لندن د کنفرانس لپاره د اقتصاد، امنیت او له فساد سره د مبارزې په برخه کې د طرحو پر جوړولو بوخت دي. د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس به پر ۲۰۱۰ زېږدي کال د جنوري پر ۲۸مه په لندن کې جوړ شي، چې کوربه توب به یې د برېتانیا لومړی وزیر ګورډن براون، افغان ولسمشر حامد کرزي او د ملګرو ملتونو سرمنشي بان کي مون کوي. د برتانیا لومړي وزیر ګورډن براون د نومبر پر اته ویشتمه د ملګرو ملتونو له سرمنشي بان کي مون سره په یوه خبري غونډه کې د دغه کنفرانس د جوړولو اعلان وکړ. د ده په وینا د کنفرانس لویه موخه په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې لپاره د لومړیتوبونو په ګوته کول او د ټکاو په برخه کې له افغان حکومت سره مرسته کول دي. ګورډن براون د کنفرانس لپاره د تیاریو په لړ کې ورمه ورځ له افغان ولسمشر حامد کرزي سره ټېلیفوني خبرې کړې دي. د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر په دې اړه وايي، چې دواړو مشرانو د خبرو اصلي ټکی د کنفرانس لپاره چمتوالی و. ښاغلی عمر زیاتوي چې افغان چارواکي دا مهال بوخت دي، چې د لندن دکنفرانس لپاره د خپل حکومت طرحې جوړې کړي. د ښاغلي عمر په وینا د لندن کنفرانس د افغانستان په اړه له پخوانیو کنفرانسونو سره ښکاره توپیر لري چې ډېره او کارنده ونډه به په کې د افغان حکومت وي. د لندن کنفرانس چې نوبت یې د ښاغلي براون له لوري شوی وار له مخې لا له افغانستان سره مرستندویو هېوادونو ورته هر کلی کړی دی. د بي بي سي د رپوټ له مخې، د کنفرانس برخوال به د افغانستان د ټکاو او دغلته له ترهګرۍ سره د مبارزې په اړه خبرې اترې وکړي. خو افغان حکومت د داسې یو کنفرانس غوښتنه کوي، چې اجنډا یې تر هغه ډېره پراخه وي چې ښاغلي براونیې وړاندیز کړی دی.

مشرانو جرګې د سناتور د وژنې په اړه غبرګون څرګند کړ

د جرګې منشي عبدالخالق حسیني وايي، چې د حکومت او مشرانو جرګې د پلاوو تر پلټنو وروسته به د پېښې عاملینو ته سخته سزا ورکړل شي. د افغانستان مشرانو جرګې پرون د خپل وژل شوي سناتور پر وژنه سخته خواشیني ښوده او د کورنیو چارو له وزارته یې د دغې پېښې د پلټنې غوښتنه وکړه. په مشرانو جرګه کې د بغلان د ولایت سناتور محمد یونس شیرین اغا ورمه شپه ناوخته هغه مهال د پولیسو په ډزو ووژل شو، چې د بغلانه د پلخمري ښار ته روان و.
د کورنیو چارو وزارت وايي د ښاغلي شیرین اغا د سپرلۍ ګاډی د پولیسو په لارښوونه ونه درېد او په ګاډي کې د ناستو کسانو له خوا په پولیسو ډزې وشوې، چې د پولیسو د ځوابي ډزو په نتیجه کې هغه او د هغه موټر چلوونکی ځای پر ځای ووژل شول او یو تن ساتونکی یې ټپي شو. د افغانستان د مشرانو جرګې خپله پرونۍ غونډه د سناتور محمد یونس د وژنې څېړلو ته ځانګړې کړه او د هغه وژنه یې په سختو ټکو کې وغندله. دغې جرګې له خپله لوري یو پلاوي ته دنده وسپارله، چې د بغلان ولایت ته سفر وکړي او د دغې پېښې جاج واخلي.
د پژواك د رپوټ له مخې، د جرګې منشي عبدالخالق حسیني وویل، چې د حکومت او مشرانو جرګې د پلاوو تر پلټنو وروسته ۳مخ

بهرنیو ځواکونو دا ځل بیا ولسي وګړي ووژل

د پکتیا زرمت اوسېدونکي وايي، تېره شپه ځانګړي بهرني ځواکونه یوه کور ته ورغلي، درې کلیوال یې وژلي او دوه نور یې له ځانه سره بیولي دي. خو ناټو وايي چې وژل شوي او نیول شوي ټول وسلوال دي.
د پکتیا امنیه قومندان جنرال عزیز احمد وردګ د پېښې په تایید سره وویل، دا پېښه د بهرنیو ځانګړو ځواکونو او ناټو لخوا ترسره شوې ده.
دا پېښه ورمه شپه د پکتیا زرمت ولسوالۍ په ګل دادخېلو سیمه کې شوې ده. ښاغلي وردګ زیاته کړه چې په دې اړه اوس دوی پلټنې پیل کړې، چې درې ورځې وروسته به یې پایله جوته شي.
نوموړي د پېښې په اړه له نورو معلوماتو ورکولو ډډه وکړه.
ځایي خلک وايي د شپې مهال بهرني ځواکونه د دوی کلي ته ورغلل، د یوه کور دروازه یې په راکټ والوځوله او هلته یې درې ولسي وګړي ووژل او دوه نور یې له ځانه سره بوتلل. د سیمه ییزو خلکو په وینا، وژل شوي او بېول شوي ټول مزدورکاره خلک دي.

په سوېل لوېدیځو ولایتونو کې د پوهنتون ته تلونکو شمېره نوره هم کمه شوې

افغان چارواکو د چارشنبې په ورځ و منله چې په کندهار، زابل، ارزګان او هلمند ولایتونو کې به تر تېر کال هم لږ زده کوونکي وکولای شي، چې د کانکور ازموینو ته ورشي. د چارواکو په وینا تېر کال پوهنتونونو ته د برېالي شوو ټولو افغان زده کوونکو یوازې په سلو کې یو له کندهار، زابل، ارزګان او هلمند څخه و. هلته یوازې شپږ سوه زده کوونکي پوهنتون ته بریالي شوي وو. د افغانستان د پوهنې وزارت یوه چارواکي وویل، چې تېر کال له ټول هېواد څخه اووه نوي زره زده کوونکو د کانکور ازموینه ورکړې وه، خو له دوی څخه د ارزګان، زابل، کندهار او هلمند له ولایتونو څخه ټول ټال یو زرو دېرش کسان وو. له دغو کسانو یوازې شپږ سوه د دې جوګه بلل شوي وو، چې پوهنتون ته لار ومومي. د دغو څلورو ولایتونو د بریالیو شپږ سوه زده کوونکو له کتاره یوازې شپاړس نجوني وې، چې په هغو کې درې له کندهاره، څلور له زابله او نهه له هلمنده وې، خو له ارزګان ولایت څخه یوه نجلۍ هم پوهنتون ته نه ده نیول شوې.
چارواکي وېره لري چې سږ کال به د هغو زده کوونکو شمېره ۳مخ

درې کال وروسته به دهېواد ټوله عادي بودجه کورني عواید پوره کړي

مالیې وزارت ته نوموړ شوی وزیر ډاکټر عمر زاخېلوال، په ولسي جرګه کې د خپلو راتلونکیو پلانونو د تشریح پرمهال وویل، چې درې کاله وروسته به د هېواد ټوله عادي بودجه کورني عواید پوره کړي. زاخېلوال، چې د مرغومي پر دویمه یې، له ولسي جرګې څخه د باور رایې د ترلاسه کولو په موخه، په دغه جرګه کې راتلونکي پنځه کلن پلانونه تشریح کول، وویل چې سږکال کورني عواید د عادي بودجې یوازې ۲۰٪ جوړوي. د هېواد سږنۍ عادي بودجه ۱،۸ میلیارده ډالره یا شاوخوا ۹۰ میلیارده افغانۍ ده، چې د تېر کال د کب پر ۲۸مه، د ولسي جرګې لخوا تصویب شوه. زاخېلوال وویل، چې درې کاله وروسته به عادي بودجه ۱۰۰ میلیارده افغانیو ته لوړه شي. د زاخېلوال په وینا، تېر کال کورنیو عوایدو ۵۰٪ عادي بودجه جوړوله، سږکال یې ۲۰٪ جوړوي، راتلونکی کال به ۷۵٪ جوړه کړي، بل کال به ۹۰٪ او په درېیم کال به ټوله بودجه پوره کړي.
زاخېلوال وویل، چې د تېرو څو کلونو په اوږدو کې د دولتي عوایدو کچه د اختلاس، ټیټ کاري ظرفیت او دولت ته د مالیې نه ورکولو له امله ټیټه وه. هغه وايي، چې یو شمېر بهرني شرکتونه، چې بهرنیانو ته توکي راوړي، مالیه نه ورکوي او که چېرې دوی مالیه ورکړي، د هېواد د عوایدو کچه به څو برابره لوړه شي.
د نوموړي په وینا، د لسګونو بهرنیو شرکتونو په لیکه کې په بګرام کې د فیډکس او سوپریم کمپنۍ دي، چې مالیه نه ورکوي.
د نوموړي په وینا، سوپریم چې د درې میلیارده ډالرو په شاوخوا کې قراردادونه لري، یوازې سږ کال یې ۲۰۰ زره ډالره مالیه ورکړې، چې ډېره ټیټه ده. خو هغه دا ونه ویل، چې باید څومره مالیه یې ورکړې وای؟ ۳مخ

د ننګرهار د زیتونو د هډې د فارم بیارغونه پیل شوه



د ننګرهار ولایت د زیتونو د هډې فارم د ۳۵۲ هکتاره باغونو بیارغونه، د امریکا د متحدو ایالاتو د کرنیزې پراختیايي ډلې (ADT) په مرسته پیل شوه. د ننګرهار د کانال رییس انجنیر حکیم وویل، چې د مرغومي پر ۲مه، د ADT ډلې په مرسته د هډې فارم د څلورو بلاکونو د ۳۵۲ هکتاره باغونو بیارغونه یې پیل کړه.
د کانال رییس زیاته کړه: «دغه یوه کلنه پروژه به د ۱۷نیم میلیونه افغانیو په لګښت د راتلونکي کال تر ډسمبره بشپړه شي.» د کانال رییس وویل، هیله من دی، چې پر ۲۰۱۱ زېږدي کال به له نوموړي فارم څخه د زیتونو حاصل لاس ته راوړي. انجنیر حکیم وویل، چې د هډې په فارم کې لویه ستونزه د برېښنا نشتوالی دی، چې په وینا یې دغه فارم ته د کانال اوبه په واټر پمپونو لېږدول کېږي. انجنیر حکیم وویل، چې د اوبو ستونزه یې د کرنې او مالدارۍ له وزارت سره شریکه کړې، خو یې د حل لاره راوباسي. د پژواك د رپوټ له مخې، د هډې فارم د پروژې مسوول انجنیر حضرت ولي وویل، چې په یاده پروژه کې به ۱۲۰ مزدوران او د کرنې ۱۰ کارپوهان د هډې فارم د ۷۲ زره ونو د اوبو لګولو، سرې ورکولو، شاخ بورۍ او کولبې چارې ترسره کړي. حضرت ولي وویل، چې د یادو چارو په سرته رسېدلو به د هډې فارم باغونه په مېوه راشي.
د یادونې ده، چې په ۳مخ

عاشورا د ورځې فضیلتونه او د کربلا پېښه

۲

مایکل مولن لوی درستیز امریکا:

راه حل نظامی در مورد ایران باید همچنان به عنوان یک گزینه مطرح باشد

تلاش اصلی امریکا باید در حال حاضر بر روی وارد کردن هر چه سریعتر نیروهای جدید خود به افغانستان باشد

مایکل مولن لوی درستیز امریکا در یادداشتی شش صفحه یی نوشت، گرچه دیپلوماسی و سیاست، راه های بهتری برای حل مناقشهٔ اتومی ایران است، اما راه حل نظامی باید همچنان به عنوان یک گزینه مطرح باشد.
لوی درستیز امریکا، در یاداشتی شش صفحه یی که رئوس برنامه های کاری وی برای سال ۲۰۱۰ میلادی را تشریح می کند، نوشت: "گرچه دیپلوماسی و سیاست راه های بهتری برای حل مناقشهٔ اتومی ایران است، اما راه حل نظامی باید همچنان به عنوان یک گزینه مطرح باشد. با این وجود من حمایت کامل خود را از راه حل دیپلوماتیک برای پایان دادن به موضوع هسته یی ایران اعلام می کنم."
مولن در ادامهٔ یاداشت خود در تشریح وضعیت کنونی نیروهای مسلح ایالات متحده به ص۳

د لوی او ښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

ایام مذهبی قبل از تجلیل باید تحلیل گردد

محرم، محرم راز عاشقان پاک طینت و رهروان حقیقت و تجلی نور به زوایای تاریک و ظلمانی انسان های تاریک نگر و سیاه اندیش است.

تنها نوحه کردن، گریستن و گریبان دریدن در ماه محرم علاج دردها نیست، استغفارو طلب مغفرت از تقصیرات، فرا گرفتن درس ایثار وفداکاری از مکتب امام و سرمشق قراردادن رهنمودهای این الگوی شجیع و با شهامت در برنامه های زنده گی راه نجات است.

کارنامه های امام حسین (رض) و ۷۲ تن از یاران و همسفرانش زمان مقطعی نبود که می بایست در دهم محرم سال ۶۱ هجری قمری به وقوع می پیوست تا جان های شیرین خویش را در راه حق و عدالت قربان نموده و با ریختاندن خون های گرانبهای خویش دشت کربلا را رنگین سازند، تا جلو ظلم و بی عدالتی ها را سد شوند، بلکه این پروسه تا قیام رستا خیز جاری بوده و در هر زمان و مکانی جریان دارد؛ از اینجاست که می گویند: " اگر نیک بنگری هر روز، روز عاشورا و هر سرزمین سر زمین کربلاست".

عاشورا پیام آور صبر، تحمل، بردباری و اعتماد به نفس بوده و هدف از قیام عاشورا مبارزه علیه ظلم، ستم، زورگویی و بی عدالتی است.

قیام عاشورا تنها مختص به قشر جوان و یا طبقهٔ ذکور نبود، قسمیکه تاریخ گواه است، در این قیام حق علیه باطل، از طفل شش ماهه تا پیر مرد ۸۵ ساله به شمول زنان شرکت نموده بودند. چنانکه بی بی زینب که به نام ام المصایب ملقب گردیده است، با اشتراک خویش در این حماسه، بهترین شیوهٔ خواهری، اسلامیت و انسانیت را به نمایش گذاشت.

گرامی داشت از ایام محرم تنها مربوط به یک قوم، یک قبیله ویا یک مذهب نیست، بلکه انقلاب کربلا همه گانی، جهانی و انسانی است که حضرت امام حسین (رض) الگو و پیشگام این حماسه بود.

بزرگترین پیام حماسهٔ حسینی اخوت، همدلی و همرنگی است. امام حسین (رض) در مقابل تمام بدعت ها، کج روی ها، بی عدالتی ها، ظلم و فساد اداری و اجتماعی قیام نمود. چنانکه به قول امام که می فرماید: " من می خواهم برای اصلاح امت جدم امر به معروف و نهی از منکر نمایم و به سیرت و روش جد و پدرم عمل کنم".

درس قیام حضرت امام حسین(رض) درس ایثار، اخلاص، جوانمردی، شجاعت، شهامت، صبر، استقامت، آزاده گی، شهادت طلبی، عدالت خواهی، رضای الهی، حق طلبی و حق مداری است. حقیقت امر این است که ماه محرم تنها رنگ سیاه روزی و اشک ریزی را به همراه ندارد که شاخص ترین وجهه آن در عزت طلبی، عدالت نگری و آزادی خواهی خلاصه می گردد. از این رو، عاشورا روایت عزت طلبی کامل و آزاده خواهی تمام عیار است.

عاشورای حسینی مبداء و سرمشق عشق، محبت و دوستی به دین، مذهب، انسانیت و عدالت است.

پس چه بهتر که پیروان خط امام و همه مسلمانانی که طرفدار حق و عدالت اند و آرزو دارند، تا در یک لحظهٔ حیات خویش از شمیم دل آویز و هوای معطر آزادی تنفس نمایند، باید راهکارها، رهنمودها و سیر حضرت امام حسین (رض)، امامان و پیشوایان اسلام را سرمشق خویش قرار داده و برنامه های زنده گی خویش را مطابق به دستورهای رهایی بخش ایشان طرح ریزی نمایند، تا سزاوار وشایستهٔ قرب درگاه حق گردند.

عاشورا د ورځې فضیلتونه او د کربلا پېښه

خادم احمد

د گران رسول داحادیثو او د اسلامي پوهانو د لیکنو پر بنسټ د عاشورا ورځ یوه مبارکه ورځ ده، چې له اسلام نه مخکې د جاهلیت عربو او د یهود یانو په نزد هم د یوې سپېڅلې ورځې په نامه پېژندل کېدله او دوی به پر دې ورځ روژه نیوله. د لغت پوهانو د تحلیل پر بنسټ د عاشورا کلمه له (عشر) نه لکه څرنگه، چې د تاسوعا کلمه له (تسع) څخه مشتق ده، اخېستل شوې او مانا یې ((لسمه))ده، چې له هغه نه مراد د محرم د میاشتې لسمه نېټه ده، چې په کې حضرت امام حسین او د هغه نور ۷۲ تنه ملگري د کربلا په دښته کې د یزیدیانو له خوا په مظلومانه توگه، په شهادت ورسېدل.

د اسلامي روایاتو له مخې، په دې ورځ کې حضرت آدم) حضرت نوح (ع) له سېلاب نه خلاصون وموند. همدا راز حضرت ابراهیم (ع) خدای تعالی د نمرودیانو له اور نه بچ کړ. د یو بل روایت له مخې، د حضرت یعقوب (ع) د سترگو رڼدوالی هم په همدې ورځ لرې او هغه د حضرت یوسف (ع) وصال ته ورسېد. لوی خدای (ج) حضرت ایوب (ع) ته، هم په همدې ورځ، چې ډېر سخت ناروغ و، روغتیا ورپه برخه کړه. ترڅو لو مهمه پېښه، چې په هکله یې ډېر روایتونه راغلي، هغه د فرعون له شره او ضرره د حضرت موسی (ع) او د هغه د قوم بني اسراییلو خلاصون دی، چې په ترځ کې يي لوی خدای فرعون د نیل په سیند کې ډوب او بشر یې د تل لپاره له بدیو او ناراوو نه وژغوره. له دې نه اخوا حضرت عیسی (ع) هم په همدې ورځ اسمان ته پورته شو او عروج یې وکړ.

د عاشورا په ورځ روژه نیول:

د عاشورا په ورځ روژه نیول یو مستحب کار او ډېر ثواب لري، گران پیغمبر حضرت محمد (ص) به تل په دې ورځ روژه نیوله.

له دې نه اخوا، د گران پیغمبر (ص) له احادیثو نه داسې ښکاري، چې د عاشورا ورځ د یهودو او د جاهلیت دورې د قریشو تر منځ هم مشهور وه.

حضرت عایشه (رض) وایي: عاشورا هغه ورځ وه، چې قریشو به د جاهلیت په دوران کې په دې ورځ روژه نیوله او رسول (ص) به هم په همدې ورځ روژه نیوله او کله، چې هغه مبارک مدیني منوري ته مهاجر شو، نو په دغه ورځ به یې خپله هم روژه نیوله او نورو ته یې هم پر نیولو باندې حکم کاوه، خو هغه مهال، چې د رمضان د میاشتې روژه پر مسلمانانو فرض وگرځول شوه، نو ده مبارك وفرمایل: هرڅوك، چې وغواړي، دغه روژه (د محرم د لسمې ورځې) ونیسي و یې دې نیسي او که څوك یې نیول نه غواړي، نو نه یې دې نیسي.

همدارنگه له عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی ((چې د جاهلیت په دوره کې به هم خلکو په دغه ورځ روژه نیوله. گران پیغمبر (ص) او نورو مسلمانانو به هم مخکې له دې نه، چې د رمضان روژه فرض شي، په دغه ورځ کې روژه نیوله، خو کله، چې د رمضان د میاشتې روژه فرض وگرځول شوه، نو آنحضرت (ص) وفرمایل ((په تحقیق سره د عاشورا ورځ د خدای له ورځو څخه ده، نو که څوك په کې غواړي روژه ونیسي، ویې دې نیسي او که څوك نه غواړي، نه دې یې نیسي)) له بخاري او مسلم نه روایت دی.

حضرت عباس (رض) فرمایي، ژباړه: ((کله، چې محمد (ص) مدینې منورې ته مهاجر شو، ویې لیدل، چې یهودیان په دغه یعنې د عاشورا په ورځ روژه نیسي، نو هغه مبارك وفرمایل: دا څه شی دی؟ هغوی وویل، چې دا ډېره ښه ورځ ده، دا هغه ورځ ده، چې لوی خدای (ج) حضرت موسی او بني اسراییل د فرعون له شر نه وژغورل او حضرت موسی (ع) به په دغه ورځ روژه نیوله، نو آنحضرت (ص) وفرمایل: چې زه موسی ته د تاسې په پرتله ډېر حقدار یم او لومړیتوب لرم، نو پر دې بنسټ ده مبارك به له دې وروسته، خپله هم په دغه ورځ روژه نیوله او نورو ته به یې حکم کاوه.

د عاشورا د ورځې فضایل:

امام ترمذي (رح) له ابوقتاده نه رانقلوي، چې گران پیغمبر (ص) وفرمایل: ژباړه: ((هېڅ یوه ورځ پر بلې باندې د روژې د نیولو له مخې ښه والی او فضیلت نه لري، مگر د رمضان د میاشتې او د عاشورا د ورځې روژه.

امام ترمذي له حضرت علي (رض) نه روایت کوي، چې یوه سړي له آنحضرت (ص) نه پوښتنه وکړه، چې د رمضان له روژې نه پرته د کومې ورځې پر روژې باندې امرکوي، نو آنحضرت (ص) وفرمایل: ژباړه: په محرم کې روژه ونیسه، ځکه، چې دا د لوی خدای (ج) میاشت ده او په محرم کې یوه ورځ شته، چې لوی خدای په کې، د یو قوم توبه قبوله کړه او د بل قوم روژه هم قبلوي

له دې ټولو احادیثو نه، چې د عاشورا د ورځې په اړه روایت شوي دي، داسې ثابتېږي، چې په سرکې پر مسلمانانو د عاشورا په ورځ کې د روژې نیول ،واجب او لازم گرځول شوي وو، ځکه چې گران پیغمبر (ص) فرمایلي وو: د عاشورا په ورځ روژه ونیسئ او له حضرت ابن مسعود نه روایت دی، چې آنحضرت (ص) وفرمایل ژباړه: اوس، چې د رمضان روژه فرض وگرځول شوه، نو د عاشورا د ورځې روژه پرېښودل)) نو له دې نه داسې ښکاري، چې له هغه نه وروسته، چې د رمضان روژه فرض وگرځول شوه، د عاشورا د ورځې روژه د فرضي او واجب روژې په توگه پرېښودله شوه، اما د مستحبوالي حکم یې اوس هم په خپل ځای پاتې دی، ځکه چې گران پیغمبر (ص) د عمر تر پایه په ځانگړې اهتمام سره یې نیوله او ویل به یې که ژوندی پاتې شم خامخا به د نهم (تاسوعا) او لسم روژه نیسم او خپل امت یې د دې ورځې په روژه تشویق او ترغیباوه.

لکه څرنگه، چې رسول اکرم (ص) ډېر پر دې ټینگار کاوه، چې د اسلام دین باید له نورو دینونو نه توپیر ولري او د نورو دینونو له شعارونو باید لرې واوسو، نو ځکه یې مسلمانان د تاسوعا (د محرم د نهمې ورځې) او عاشورا د روژې پر نیولو هڅول، څو د مسلمانانو د روژې د اهل کتابو له روژې سره توپیر وشي.

څرنگه، چې گران رسول (ص) هیله څرگنده کړه، چې راتلونکی کال به د عاشورا ورځې د روژې تر څنگ، د تاسوعا روژه هم نیسي. پر دې بنسټ د تاسوعا روژه هم مستحب ده.

عاشورا او د حضرت حسین رض شهادت:

د عاشورا په تاریخي ورځ کې د حضرت امام حسین رض د شهادت پېښه رامنځته کېدل د لوی خدای (ج) تقدیر او اراده وه.

ډېری اسلامي تاریخ لیکونکي د کربلا پېښه هم په همدې ورځ ثبتوي، چې په ترځ کې یې د گران پیغمبر لمسی حضرت امام حسین له خپلو ۷۲ تنو ملگرو سره په کې، په ډېره مظلومانه توگه د کربلا په دښته کې د یزید د پلویانو له خوا، په شهادت ورسېدل. دغه تاریخ لیکونکی محمد بن جریر طبري، بلاذري **۳مخ**

کرزی و چشم‌انداز اصلاحات در افغانستان

سیدمحمدرضا موسوی

تقریبا ۲ سال قبل بود که حامد کرزی - رییس‌جمهور افغانستان در مصاحبه‌یی با مجلهٔ آلمانی اشپیگل به فساد زیاد در دستگاه حکومتی و اداری‌اش اعتراف کرد. هر چند حامد کرزی در آن مصاحبه هر گونه دست داشتن برادرش - محمود کرزی - را در مافیای موادمخدر رد کرد، ولی با صراحت اعلام کرد که دولتش برای بقا و ادارهٔ نسبی افغانستان ناچار است، چشم خود را روی برخی فسادهای جاری در حکومت ببندد. مثالی که حامد کرزی در توجیه دیدگاهش در آن مصاحبه آورد، از بسیاری جهات قابل تأمل بود.

رییس جمهور افغانستان به خاطره‌یی اشاره کرد که در آن، یکی از قوماندانان قدرتمند محلی به هیچ وجه حاضر نمی‌شد، سلاح‌های خود را به دولت مرکزی تحویل دهد و عملا ناامنی‌های فراوانی را در نواحی تحت کنترول خود به‌وجود آورده بود. کرزی گفت: از آنجایی که ما هیچ چاره‌یی در برابر آن قوماندان قدرتمند محلی نداشتیم، تصمیم به مذاکره با او گرفتیم و نتیجهٔ مذاکره این شد که دولت مرکزی ماهانه، ۳۰ هزار دالر به وی بپردازد و در عوض، نیروهای قوماندان مذکور از هر گونه ایجاد ناامنی پرهیز کنند.

مصاحبهٔ کرزی با اشپیگل آن روزها در محافل سیاسی افغانستان جنجال‌برانگیز شد، ولی اکثرا بر این باور بودند که کرزی با این مسأله به نحو درستی برخورد کرده است. در واقع، از این نوع قوماندانان متمرّد در نواحی مختلف افغانستان فراوان به چشم می‌خورند که دولت مرکزی چاره‌یی جز باج‌دهی به آنها ندارد و در غیراین صورت، آنها به خدمت نیروهای طالبان درمی‌آیند و مخل امنیت و بازسازی می‌شوند.

معضل فساد در افغانستان ریشهٔ دیرپایی در تاریخ معاصر این کشور دارد. تقریبا در تمام برهه‌های قرن بیستم، مسألهٔ فساد در افغانستان یکی از چالش‌های اصلی فی مابین دولت و جامعه بوده است و در این میان، به باور بخش عظیمی از افکار عمومی افغانستان کمترین میزان فساد در این کشور به دورهٔ باز می‌گردد که جنبش طالبان، حکومت افراطی خود را در ۹۰ درصد از خاک این کشور برقرار کرده بود. به جز این دورهٔ اندک، در تمامی برهه‌های قرن بیستم مسألهٔ فساد، جزء لاینفک از حکومت در افغانستان بوده است. شکی نیست که فرایند مبارزه با تروریزم منهای تشکیل یک دولت کارآمد به هیچ وجه در افغانستان ثمر بخش نخواهد بود، ولی از این نکته نیز نباید غافل ماند که ایجاد یک نظام سیاسی سالم و کارا امری است که فرصت‌ها و امکانات بیشتری را برای تحقق این مهم می‌طلبد.

با پایان یافتن مراسم تحلیف ریاست جمهوری افغانستان، حامد کرزی عملا دومین دورهٔ ریاست‌جمهوری خود را بر اطراف و اکناف کابل (!) آغاز کرد. بیش از ۳۰۰ هیأت و شخصیت طراز اول سیاسی از نقاط مختلف دنیا تحت شدید‌ترین تدابیر امنیتی به کابل آمده بودند، تا در این مراسم شرکت کنند. بر خلاف مراسمی که ۵ سال قبل برای کرزی برگزار شده بود و هیأت های دیپلوماتیک برای تبریک به کرزی به کابل آمده بودند، این بار اکثر قریب به اتفاق شرکت‌کننده گان نه برای تبریک کرزی، بلکه برای ارایهٔ توصیه‌های هشدار گونهٔ کشورها و نهادهای مافوق خود در مراسم حاضر شده بودند، تا به کرزی اعلام کنند که همه چیز منوط به تشکیل یک دولت کارآمد از سوی اوست و دیگر هیچ.

هیلری کلنتن به نماینده گی از کاخ سفید در دیدار خود با کرزی با یادآوری پیام تبریک اوباما به این نکته مجددا اشاره داشت که کرزی ۶ ماه فرصت دارد، تا دستاوردهای مثبتی از مبارزه با فساد و ناکارآمدی به کاخ سفید ارایه کند و در غیر این صورت، کمک‌های امریکا به افغانستان به طرز چشمگیری کاهش خواهد یافت و دولت کرری عملا حمایت واشنگتن را از دست خواهد داد. دیگر هیأت‌ها و شخصیت‌های شرکت‌کننده از جمله، نمایندهٔ اتحادیهٔ اروپا، نمایندهٔ ناتو و بسیاری از مقام های اروپایی نیز پیام‌های مشابهی را به کرزی تحویل دادند که همگی به‌گونه‌یی خواهان سامان‌بخشی به وضع نابسامان حکومتی- اداری افغانستان بودند. بحث اصلاحات و کارآمدسازی دولت کرزی در شرایطی از سوی قدرت‌های بین‌المللی مطرح می‌شود که بر همگان واضح **ص۳**

ترکیه جایگزین عربستان می شود

گردآوری و ترجمه: رضا خطیبی

اوباما در واقع با یک تیر دو نشان زده است؛ وی هم منافع اقتصادی مشترکش را با عربستان حفظ کرده و هم نفوذ عربستان را کاهش داده است.
زیرا دریافته که توازن قوا در منطقه تنها از طریق کاهش نقش و جایگاه عربستان و واگذاری آن به کشورهای ترکیه و سوریه ممکن است.
برای مدت‌ها مصر کشور فعال و مؤثر اتحادیهٔ کشورهای عربی بود، ولی بعد از مدتی توانایی تحرک، طراحی و ابتکار را از دست داده و عربستان در رأس کشورهای عربی قرار گرفت. اما با بررسی و بازبینی برخی مطالبی که در گزارش سالانهٔ سازمان امنیتی ایالات متحده (سیا) درج شده می‌توانیم به این نتیجه برسیم که عربستان نیز، توانایی حفظ موقعیت کنونی را در بین کشورهای منطقه ندارد و این نقش به کشور دیگری منتقل خواهد شد و امریکا، نقش سیاسی‌یی که عربستان در منطقه داشت را به ترکیه منتقل کرده است.این روزها شاهد یک سلسله حوادث سیاسی ناگهانی و پی در پی هستیم که تنها در چارچوب برنامه‌های ایالات متحده در منطقه قابل تفسیر است؛ حوادثی که در گزارش فوق نیز به نوعی پیش‌بینی شده بود. این حوادث باعث شده که محور ترکیه - سوریه نقش کلیدی در منطقه بیابد که ایران نیز به‌عنوان کشور درگیر در مسألهٔ صلح و سازش در منطقه، به آنها اضافه می‌شود.
در سایهٔ چنین وضعیتی این سؤال مطرح می‌شود که عربستان و مصر در این فرایند چه نقشی دارند؟ حوادث جاری در منطقه به اندازه‌یی سریع بود که کمتر کسی متوجه شد، ایالات متحده برنامهٔ خاصی را در منطقه تهیه دیده است؛ همان برنامه‌یی که از جنگ غزه شروع شده و سپس شاهد رشد روزافزون مواضع ترکیه و انتقادهای شدید این کشور از عملکرد اسراییل در جنگ بود.
به‌نظر می‌رسد، امریکا تصمیم گرفته برای جبران عدم‌پیوستن ترکیه به اتحادیهٔ اروپا به این کشور اجازه دهد که در جهان اسلام نفوذ کند. به هر حال، رشد نقش و تأثیر ترکیه در منطقه به همراه محور سوریه، باعث شد نقش و جایگاه عربستان و مصر در منطقه به‌شدت تضعیف شود و به این وسیله، تحلیل‌های این گزارش سازمان سیا، هر چند با کمی تأخیر، صحیح از کار در آمد. در سایهٔ ناتوانی مصر در حل موضوع آشتی بین جناح‌های مختلف فلسطینی از جمله جنبش فتح در کرانهٔ باختری و جنبش حماس در باریکهٔ غزه و عدم‌توانایی در فیصلهٔ نظامی و قاطعانهٔ دوسیه های متعدد دیگری، چرا جایگاه عربستان رو به افول بوده است؟ به عبارتی دیگر، چرا ایالات متحده در چنین شرایطی پشت عربستان را خالی کرده است؟
همان طور که همه می‌دانند، منافع اقتصادی مشترک بین عربستان و ایالات متحده به اندازه‌یی مهم است که به هیچ‌وجه نمی‌توان آن را نادیده گرفت. در واقع هم نفت عربستان و هم سرمایه‌های عربستانی، شاهرگ حیات ایالات متحده است. سران ایالات متحده همواره به‌دنبال این بودند که یک کشور چنین نقش انحصاری را در اقتصاد شان ایفا نکند. آنها به‌دنبال جایگزین‌هایی برای کشور عربستان بودند که از ناحیهٔ نفوذ دینی در منطقه و نفوذ سیاسی بر حکومت‌ها بتواند، رقیب یا شریک و یا حتا جایگزینی برای عربستان باشد.
سران ایالات متحده قبل از اوباما نتوانستند، چنین کشوری را بیابند، ولی اوباما توانست، چنین رقیب یا جایگزینی را در ترکیهٔ امروزی بیابد که البته از لحاظ نفوذ دینی و سیاسی ضعیفتر از عربستان است، ولی می‌تواند، روز به روز شرایط خود را بهبود بخشد.
در سایهٔ چنین شرایطی است که ترکیه جایگاه مهمی در منطقه یافته و به جای اجازهٔ پیوستن به اتحادیهٔ اروپا، دستش را در منطقه باز گذاشته‌اند. اوباما در واقع، با این کار با یک تیر دو نشان زد. وی هم روابط و منافع اقتصادی مشترکش با عربستان را حفظ کرد و هم کم‌کم نفوذ عربستان را در منطقه کاهش داد.

کرزی و چشم‌انداز...

و مبرهن است که دستگاه‌های سیاسی - اجرایی کرزی ضعیف‌ترین برههٔ خود را در ۸ سال اخیر می‌گذرانند.
کاهش روابط حسنهٔ کرزی با متحدان غربی به‌ویژه ایالات متحده، رشد بی‌رویهٔ طالبان در اقصی نقاط کشور، فساد بالای اداری و حکومتی، رشد بی‌حد و حصر موادمخدر، افزایش بی‌رویهٔ فقر، متوقف‌شدن روند بازسازی، بروز بحران سیاسی جدید داخلی پس از انتخابات اخیر ریاست‌جمهوری و... همه و همه از چالش‌های بزرگی محسوب می‌شود که کرزی برای عبور از آنها امکانات چندانی را در اختیار ندارد. البته باید صبر کرد و دید که کرزی در نخستین قدم خود برای اصلاح وضع موجود، چگونه نظامی را بر پا می دارد. حامد کرزی در سخنرانی تحلیف خود بر ۴ برنامهٔ دولت آیندهٔ خود تأکید کرد که عبارتند از:
۱-تشکیل دولت مشارکت ملی و دعوت از منتقدان دولت برای پیوستن به دولت.
۲- تأکید بر استراتیژی مذاکره با طالبان.
۳- برگزاری لویهٔ‌جرگه سراسری و تصمیم‌گیری پیرامون معضلات و چالش‌های کلان دولت مرکزی.
۴- مبارزهٔ جدی با فساد اداری - حکومتی.
کارشناسان و صاحبنظران مسایل افغانستان، آیندهٔ چندان روشنی را برای این برنامه‌ها پیش‌بینی نمی‌کنند، ولی به اعتقاد اکثر آنان، آنچه کرزی را نسبت به آینده قدری امیدوار می‌کند، این است که امریکاییان به‌رغم هشدارهایی که به او داده‌اند، راهی جز تعامل با او ندارند. شکست کرزی در حل بحران‌های افغانستان و عدم‌موفقیت او در تشکیل یک دولت کارآمد، بیش از آنکه برای کرزی مشکل‌ساز باشد، برای امریکاییان و دیگر طرف‌های اروپایی حاضر در افغانستان گران تمام خواهد شد و این همان نکته‌یی است که امریکاییان و اروپایی‌ها خود نیز بر آن باور دارند.
برخی بر این باور اند که امریکاییان در شرایط فعلی در برابر کرزی به سیاستی روی آورده‌اند تا از تکرار وضعیتی که ۱۰ماه قبل به‌وجود آمد، جلوگیری کنند؛ ۱۰ماه قبل زمانی که بارک اوباما قدم به کاخ سفید گذاشت، موجی از انتقادات گسترده به سوی کرزی و تیمش سرازیر شد و کرزی نیز در پیام رسمی یی به سران کرملین خواهان گسترش مناسبات دو جانبه میان کابل و مسکو شد؛ پیامی که مدودف پاسخ گرمی به آن داد و به تعدیل انتقادات دموکراتان کاخ سفید منجر شد. کرزی همچنین چندی قبل در یک نشست مطبوعاتی اعلام کرد که درصورت قطع کمک‌های غرب ما از دیگران کمک خواهیم گرفت. منظور کرزی از دیگران در اینجا روسیه، ایران، چین و... بود که کارشناسان آن را نوعی هشدار به طرف‌های غربی حاضر در افغانستان تلقی کردند.
در کل ناکامی کرزی در اجرای اصلاحات حکومتی مساوی است، با تیره گی هر چه بیشتر روابط دولت مرکزی افغانستان با متحدان غربی و این یعنی نزدیک‌شدن کرزی به رقبای استراتیژیک امریکا در منطقه و این چیزی نیست جز پیچیده‌تر شدن هر چه بیشتر ابعاد بحران در افغانستان

راه حل نظامی در مورد ایران...

جنگ‌های عراق و افغانستان اشاره کرده و نوشته است، اردوی امریکا در حال حاضر آماده گی لازم برای جنگ‌های دیگری به غیر از جنگ‌های عراق و افغانستان را ندارد. لوی درستیز امریکا سپس بر این نکته تأکید کرده که تلاش اصلی امریکا در حال حاضر باید بر روی وارد کردن هر چه سریعتر نیروهای جدید خود به افغانستان و انتقال توانایی‌ها و ظرفیت‌های نظامی ایالات متحده از عراق به افغانستان باشد.

نبرد با زمان در ...

این بود که اصلی‌ترین فاسد دولتی در قندهار از نزدیکان حامد کرزی است!
مولن در این دیدار خطاب به رهبران قبایل محلی گفت: ما برای به دست آوردن اطمینان افغان‌ها چقدر زمان داریم؟همین مسأله یی که بسیاری از مدعوین به این نشست حاضر به حضور نشدند، بیانگر این حقیقت تلخ است که آنها اطمینان خود را از دست داده‌اند.
اما مسألهٔ امیدوار کننده این است که در تمامی مناطقی که شاهد افزایش نیروهای امریکایی بوده است، ضریب امنیتی هم افزایش یافت. ما این مسأله را بخصوص در ولایت هلمند و شهرهای آن به چشم دیده‌ایم. والی این منطقه هنگام استقبال از مولن در این خصوص گفت: دوست داشتم بر شانه‌های شما گل بگذارم.
زمانی که از قوماندان محلی اردوی ملی افغانستان می‌پرسم: آیا پس از جولای ۲۰۱۱ مسوولیت امنیت در افغانستان را بر عهده خواهید گرفت؟ او پاسخ می‌دهد: ما به زمان بیشتری نیاز داریم.

عاشورا د ورځې فضيلتونه...

ابن سعدٌ، ابن قتيبه دينوري، احمد بن داوود دينوري او ابن اثير ټول په اتفاق سره د غه پېښه د هجرت پر ۶۱ کال د محرم پر لسمه نېټه تاييدوي. د کربلا په دې پېښه کې د حضرت امام حسين رض په گډون د هغه مبارك ۷۲ تنه په ډېر مظلومانه ډول په شهادت ورسېدل، چې له هغې جملې ۱۶ تنه يې د هغه له کورنۍ څخه وو ، د ځينو روايتونو پر بنسټ له حسين رض سره د هغه له ورونو او وربرونو نه ۲۳ تنه له هغه سره يو ځاى په شهادت رسېدلي، چې په دې ډله کې د جعفر، حسين، عباس، محمد ، عثمان، او بوبکر نومونه يادولاى شو، چې ټول د حضرت علي رض زامن وو او خپله د امام حسين له زامنو څخه، چې په دې پېښه کې شهيدان شوي دي.
د علي اکبر او عبدالله نومونه اخيستى شو، همدا راز په دې پېښه کې د حضرت امام حسين څو وربرونو د حضرت حسن له زامنو څخه د عبدالله ، قاسم او ابوبکر په نومونو شهيدان شوي دي. همدارنگه د عبدالله بن جعفر له زامنو څخه د دوو تنو د عون او محمد په نومونو او د عقيل له زامنو نه جعفر عبدالرحمن او مسلم بن عقيل، چې په کوفه کې په شهادت ورسېدل او د عقيل له لمسيانو نه عبدالله بن مسلم، محمد ابن ابي سعيد او محمد ابن ابي سعيد د دې شهيدانو په ډله کې وو. په دې اړه چې آيا يزيد خپله د حضرت حسين په شهادت کې لاس درلوده او که نه، د اسلامي تاريخ ليکونکو تر منځ، بېلابېلې نظريې وجود لري، که څه هم دى (يزيد) د خپلې واکمنۍ په دوران کې ، ډېر بد او ناوړه کارونه يې ترسره کړل، خو بيا هم په دې اړه د نظرونو اختلاف وجود لري. ځينې چې شمېر يې بېخي لږ دي، په دې اند دي، چې يزيد اصلا په دې پېښه کې هېڅ ډول مسووليت او برخه يې نه درلودله، اما ځينو نورو چې شمېر يې بيا ډېر دى ، د دې نظريې پر خلاف يزيد د دې پېښې د رامنځته کېدو اصلي لامل گڼي او وايي چې هغه آن په لومړي سر کې د (ابن زياد) هغه څوك چې د حضرت حسين په شهادت کې يې په ښکاره او مستقيمه توگه لاس درلود، د ځنو پلوى و او له هغه نه يې ملاتړ کاوه. همدارنگه يزيد وروسته خپله د همداسې ناوړو سياستونو په پلي کولو په مستقيم ډول برخه واخيسته، لکه څرنگه چې وروسته ده خپله د مسلم بن عقبې تر مشرۍ لاندې يو پوځ يې تيار او د مدينې پر ښار يې ورته د بريد امر ورکړ او هلته يې ډېر نور د لوړو مرتبو اصحاب کرام په شهادت ورسول.
همدا راز دى د خپلې واکمنۍ ترپايه پورې . دې ته حاضر نه شو، چې خپل هغه کسان چې د حضرت حسين رض د شهادت لاملين وو، مجازات کړي بلکې دى خپله د هغوى سياستونه خپل کړل او په مدينه او مکه کې نور صحابه يې په شهادت ورسول.
حسين رض ، عبادت او تقوايي:
حضرت حسين رض، چې د گران پيغمبر ص د کورنۍ د غړو په جمله کې راځي، د سيرت ليکونکو په باور، د قد او قامت له پلوه، تر ډېره بريده گران پيغمبر (ص) سره ورته والى درلود، په عين حال کې هغه له ډېرو لوړو اخلاقي سجاياوو نه هم برخمن وو، چې هغه يې له خپل عالي مقام ټيکه آنحضرت سره مشابه کاوه
حسين رض د پنځه گونو، سنتو او نافله لمنځونو په ترسره کولو کې، ډېره مينه درلوده، ډېرې ورځې به يې روژه نيوله او شپې يې د لوى خداى په عبادت او لمانځنه تېرولې. مصعب وايي ، حضرت حسين پنځه ويشت ځله په پياده تگ د بيت الله شريفې حج ادا کړى دى.
ناروا رواجونه او خرافات:
له ځينو خلکو سره داسې باور وجود لري، چې د محرم په مياشت کې کوژده او يا واده کول حرام او يا ښه نه دي، په دې اړه بايد ووايو، چې دا نظريې هېڅ شرعي او ديني بنسټ او ارزښت نه لري او مطلق خرافات دي. هغه شى چې د اسلام په سپېڅلي دين کې د محرم د مياشتې په اړه يې يادونه شوې ده. هغه داده چې دغه مياشت يوه له هغو څلورو حرامو مياشتو څخه ده، چې لوى خداى (ج) ته مبارکه او هغه (ج) په کې خلك له جگړو او جنگونو نه منع کړي دي. همدا راز د نورو مياشتو په پرتله په دغو مياشتو کې د گناوو او دښمنۍ په نه کولو باندې ټينگار شوى او حضرت محمد (ص) د دغې مياشتې د شرافت او کرامت له مخې، هغه د شهرالله په نامه نومولې ده، داسې يو ه مياشت، چې د داسې لوړ مقام او رتبې درلودونکې وي، ښايي چې موږ په کې خلك خوشبينى، ښه او مشروعه کارونو ته راوبولو او په خلکو کې بايد بدعتونه او خرافات خپاره نه کړو، او له هغه بدې کړنلارې نه ، چې د مصر فاطميانو يې بنسټ اېښى او نورو خلکو ته يې د گمراهۍ لپاره پرېښې، بايد ځان وساتو. د فاطميانو له بدو پاتې شونو نه يو همدا بدعت دى ، چې د محرم مياشت يې د غم او ماتم په نوم ونومولې او په کې هر راز خوښۍ او واده کول حرام وگڼل. د اسلام له انده د کال ټولې مياشتې او ورځې د واده او کوژدې لپاره مبارك او مناسبې دي ، ځکه کوژده او واده له اسلامي شعايرو او دگران پيغمبر محمد ص له سننونه څخه دي.
ځنگه يې ولمانځو:
د عاشورا ورځې د فوق العاده ارزښت او فضايلو ته په پام سره بايد ووايو، چې بايد هر مسلمان د دې مباکې ورځې حرمت او درنښت په پام کې وساتي او په دې ورځ کې د روژې په نيولو او د قران په تلاوت او لمنځونو په کولو سره د دې ورځې حق ادا او ولمانځي، همدارنگه د کربلا د پېښې په اړه، د څېړنو او مطالعو په ترسره کولو سره، د دې ورځې د برکت او فضايلو په باره کې خپله علمي ذخيره زياته او ترڅنگ يې د باطل پر وړاندې د حق د دې لوى پاڅون پر لوړو موخو او اهدافو، ځان خبر کړي او د حضرت حسين لار، چې په وړاندې سر د ظلم او بربريت په وړاندې ودرېدل او د ژوند تر وروستيو سلگيو پورې ورسره په مېړانه مقابله وکړه ، خپله کړي

مشرانو جرگې د سناتور د...

به د پېښې عاملينو ته سخته سزا ورکړل شي
د افغانستان مشرانو جرگې پرون د خپل وژل شوي سناتور پر وژنه سخته خواشيني وښوده او د کورنيو چارو له وزارته يې د دغې پېښې د پلټنې غوښتنه وکړه. په مشرانو جرگه کې د بغلان د ولايت سناتور محمد يونس شيرين اغا ورمه شپه ناوخته هغه مهال د پوليسو په ډزو ووژل شو، چې د بغلانه د پلخمري ښار ته روان و. د کورنيو چارو وزارت وايي د ښاغلي شيرين اغا د سپرلۍ گاډى د پوليسو په لارښوونه ونه درېد او په گاډي کې د ناستو کسانو له خوا په پوليسو ډزې وشوې، چې د پوليسو د ځوابي ډزو په نتيجه کې هغه او د هغه موټر چلوونکى ځاى پر ځاى ووژل شول او يو تن ساتونکى يې ټپي شو. د افغانستان د مشرانو جرگې خپله پروتۍ غونډه د سناتور محمد يونس د وژنې څېړلو ته ځانگړې کړه او د هغه وژنه يې په سختو ټکو کې وغندله.
دغې جرگې له خپله لوري يو پلاوي ته دنده وسپارله، چې د بغلان ولايت ته سفر وکړي او د دغې پېښې جاج واخلي.
د پژواك د رپوټ له مخې، د جرگې منشي عبدالخالق حسيني وويل، چې د حکومت او مشرانو جرگې د پلاوو تر پلټنو وروسته به د پېښې عاملينو ته سخته سزا ورکړل شي.
د افغانستان د کورنيو چارو وزارت نه په خپره شوې وينا پانه کې راغلي، چې سناتور محمد يونس شيرين اغا ورمه شپه ناوخته هغه مهال د پوليسو په ډزو ووژل شو چې پوليسو ورته د درېدلو سپارښتنه وکړه. دا رنگه د حکومت له غاړې نه هم د کورنيو چارو وزارت د ترهگرۍ پر ضد د مبارزې د رييس په مشرۍ يو پلاوى سيمې ته رسېدلى او په دې برخه به پلټنې کوي.

درې کال وروسته به دهېواد...

زاخېلوال زياته کړه: «دغه بهرني شرکتونه مې اوس دې ته اړ کړي، چې ماليه ورکړي» عمر زاخېلوال، که څه هم کلونه مشخص نه کړل، خو ويې ويل چې په تېرو څو کلونو کې په افغانستان کې د بهرنيو سلاکارانو پر معاشونو دوه ميليارده ډالره لگول شوي او دا ډېر لوړ رقم دى. هغه که څه هم د دغو سلاکارانو شمېره په گوته نه کړه، خو زياته يې کړه، چې دغه سلاکاران د بهرنيو هېوادونو لخوا گومارل کېږي او هغوى ورته تنخوا ورکوي. نوموړي زياته کړه، چې ټينگار يې دادى، څو افغان دولت په خپله خوښه سلاکاران وټاکي. هغه د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل. چې د اداري فساد پر وړاندې د ماليې وزارت جدي اقدامات کړي، خو کافي نه دي او په دې برخه کې نورو اقداماتو ته هم اړتيا شته. د پژواك د رپوټ له مخې، زاخېلوال، ژمنه وکړه چې که چېرې څوک د دغه وزارت د کوم کارکوونکي د اداري فساد په اړه اسناد وړاندې کړي، دغه شان کارکوونکى به په درې ورځو کې له کاره گوښه او قانوني چلند به ورسره وشي
هغه دا ومنله، چې د هېواد په گمرکاتو کې په لوړه کچه اداري فساد موجود دى، خو وايي چې دغه فساد په ټوليزه توگه له منځه نشي وړل کېداى، خو کچه يې خامخا راټيټېداى شي. زاخېلوال د دې پوښتنې په ځواب کې چې د عوايدو لوړولو لپاره کوم لنډ مهالي او اوږد مهالي پروگرامونه لري؟ وويل چې په شفافه بڼه به ماليه او د گمرکاتو عوايد راټولېږي او د دې لپاره يې ځانگړي پروگرامونه په لار اچولي دي.
د زاخېلوال په خبره، د اوږدې مودې لپاره به هڅه وکړي چې داسې کمپنۍ پيدا کړي. چې د کانونو په برخه کې پانگونه وکړي.

د ننگرهار د زيتونو د هڅې...

ننگرهار کې دکرنيزې پي ار ټي په مرسته له تېرو دوه کلونو راهيسې د ننگرهار د زيتونو د څلورم او درېيم فارم رغونه ترسره شوې. چې سږکال به ۱۴۰۰ ټنه زيتون ترې لاس ته راشي. بايد وويل شي، چې د ننگرهار د زيتونو پروژه په ۱۳۴۳ لمريز کال کې د اويا کيلومتره اوږدوالي د ۳۱ زره هکتاره باغونو په درلودلو سره جوړه شوې، چې تېرو جگړو سخته زيانمنه کړې ده

په سوېل لوېديځو ولايتونو کې...

چې د کانکور ازموينو ته کښېنې لا کمه وي د چارواکو په وينا سږ کال په دغو څلورو ولايتونو کې دوه سوه زره زده کوونکي. د نا امنيو له امله ښوونځيو ته نشي تللى
د سوېل په نورو ولايتونو کې تر ټولو خرابه وضع د پکتيکا ده، چې هلته هم پوهنتون ته د تلونکو محصلينو شمېره خورا کمه ده.
د تاند وېپاڼې د رپوټ له مخې، د غزني په پښتني سيمو کې هم د تعليم و تربيې حالت خورا خراب دى، خو په دې وروستيو کې د غزني چارواکي او سپينږيري وايي چې گواکې وسلوالو طالبانو د هلکانو د ښوونې و روزنې په لار کې له خنډ اچولو لاس اخيستى دى. په کابل کې شننونکي وايي چې که افغان چارواکي، وسلوال طالبان او قومي مشران د ښوونې و روزنې دغه حالت ته پام ونه کړي، نو د لوى کندهار د سيمې راتلونکې به خورا بد وي.

د خبريالانو پروړاندې...

په پراخه کچه د فساد موضوع خپروي حکومتي چارواکي خپله دنده او حيثيت په کور دننه او بهر په خطر کې ويني. نو له همدې امله هغوى له رسنيو سره د تاوتريخوالي ډگ چلند کوي. نظام غواړي چې رسنۍ باج ورکړي او د حکومت پر حساسو ځايونو پاملرنه ونه کړي.
د نى په نامه د رسنيو د ملاتړ د ټولنې مشر نعمت الله الهي وايي، د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي کچه د تېر ميلادي کال په پرتله سږکال ۷۰ سلنه لوړه شوې ده
ښاغلى الهي د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي لوى لامل د رسنيو له لوري د حکومت له نيمگړتياوو نه پرده پورته کول په گوته کوي: «کله چې رسنۍ حقايق، د حکومت نيمگړتياوې او په نظام کې په پراخه کچه د فساد موضوع خپروي، حکومتي چارواکي خپله دنده او حيثيت په کور دننه او بهر په خطر کې ويني، نو له همدې امله هغوى له رسنيو سره له تاوتريخوالي ډگ چلند کوي. نظام غواړي چې رسنۍ باج ورکړي او د حکومت پر حساسو ځايونو پاملرنه ونه کړي»

مصوونیت قضایی شما به سر رسید آقای زرداری!

تتبع و نگارش: جمال اتل محصل ژورنالیزم پوهنتون کابل



ستره محکمهٔ پاکستان آب پاکی را بر دستان آصف علی زرداری ریخت. رییس‌جمهور پاکستان تنها ۱۵ ماه پس از آنکه بر کرسی قدرت در این کشور تکیه زد، با چالش جدی قضایی روبه‌رو شده‌است. رییس ستره محکمه افتخار چودری که زمانی به حکم پرویز مشرف رییس‌جمهور سابق از قدرت قضایی به حاشیه رانده شده بود، این‌بار سند پایان مصوونیت قضایی رییس‌جمهور را امضاء کرد. زرداری از بیم شورش مجدد قضات و وکلای حقوقی در پاکستان، مقدمات بازگشت چودری به قدرت را مهیا کرد؛ غافل ازآنکه این خودشیرینی هم نمی‌تواند، در نهایت او را از دوسیهٔ قضایی که قطر آن به تعداد سال‌های عمرش است، نجات دهد. فساد و سوء استفاده از پست‌های دولتی دو اتهامی است که سالهاست گریبان زرداری را گرفته و دست از سر او و خانواده‌اش بر نمی‌دارد. این‌روزها اوضاع امنیتی و سیاسی در پاکستان به گونه‌یی است که کمتر کسی به یاد می‌آورد که زرداری همسر بینظیر بوتو صدراعظم فقید پاکستان است که در عملیات انتحاری جان خود را از دست داد. اکنون با لغو محدودیت قضایی، زرداری و بسیاری از هم‌حزبی‌های او در معرض تعقیب قضایی قرار گرفته‌اند. هر چند زرداری طبق قانون اساسی تا زمان احراز در پست ریاست‌جمهوری مصوونیت دارد، اما محبوبیت او در همین چند ماه به اندازه‌یی کاهش یافته است که پاکستانی ها چندان به داشتن رییس‌جمهوری با این چنین دوسیهٔ فساد مالی نمی‌نازند. حکم ستره محکمهٔ پاکستان علیه زرداری کافی بود، تا اعضای اپوزیسیون یکصدا از رییس‌جمهور بخواهند که کرسی را واگذار کند. این حکم قضایی در بدترین مرحلهٔ زمانی ممکن به سراغ زرداری آمده‌است. بر دامنهٔ حملات القاعده و طالبان در پاکستان افزوده شده و همزمان کشورهای غربی نگران تسلیحات هسته‌یی هستند که ممکن است، هرلحظه تبدیل به اسباب بازی تروریستان شود. رییس‌جمهور پاکستان از حمایت کامل واشنگتن و غرب برخوردار است و در جامهٔ رهبری غیرنظامی به باور امریکاییان می تواند، دموکراسی سیاسی در پاکستان را پیاده کند. البته ناگفته پیداست که امریکاییان مردی را بر سر کار آورده‌اند که چندان در میان پاکستانی ها خوشنام نیست. پس از صدور حکم قضایی از سوی ستره محکمهٔ پاکستان، دفتر ریاست جمهوری اعلام کرد که وکلای رییس‌جمهور حکم را مورد تجزیه و تحلیل قانونی قرار خواهند داد و در نهایت، تمامی راهکارهای قانونی را مورد استفاده قرار خواهند داد. در این میانه، حزب مسلم لیگ در واکنش به این رای ستره محکمه از زرداری خواست که هرچه سریع‌تر از

سمت خود کناره‌گیری کند. البته سخنگوی زرداری بلافاصله این درخواست را تکذیب کرده و اعلام کرد که رییس‌جمهور از سمت خود استعفا نخواهد داد. جنرال پرویز مشرف در واپسین ماه‌های حضور در قدرت به دستور ایالات متحده حکم آشتی ملی را صادر کرده و بدین ترتیب، مقدمات بازگشت بینظیر بوتو و همسرش را به پاکستان مهیا کرد. با به پایان رسیدن مهلت قانونی یک سالهٔ این حکم، ستره محکمه دلیل قانع‌کننده یی برای تمدید آن نیافت. در این میانه، مخالفان زرداری اعتقاد دارند که اگر حکم آشتی ملی مشرف نبود، او اکنون بر کرسی ریاست جمهوری پاکستان تکیه نزده بود. با این وجود، مخالفان هم نمی‌توانند، تکذیب کنند که زرداری در انتخاباتی کاملا دموکراتیک به روی کار آمده و در حال حاضر، هم اکثریت پارلمان را در اختیار دارد. البته در طیف مخالفان هم عده‌یی میانه‌رو هستند که اعتقاد دارند، متوقف کردن زرداری تنها ۱۵ ماه پس از حضور در دولت مجددا فضا را برای بازگشت حکومت نظامی در پاکستان مهیا می‌کند. زرداری ۵۴ ساله پیش از این نیز هفت سال را به اتهام فساد مالی پشت میله‌های زندان گذرانده است. او در تمامی این سال ها، با رد ادعاها در خصوص فساد مالی خود تاکید کرده‌است که مخالفانش در حال بازی سیاسی کثیفی با او هستند

مشروع هستیم پس در قدرت می‌مانیم:

اوضاع سیاسی در پاکستان درست بر خلاف منافع و تمایل‌های ایالات متحده حرکت می‌کند. اکنون هشت هزار تن از اعضای حزب حاکم و متحدان زرداری باید انتظار روزی را بکشند که احضاریه محکمه آنها را از مسند قدرت به پای میز محاکمه بکشاند. در چنین شرایطی، اوضاع امنیتی هم طبق میل تندروان پیش می‌رود .دولت زرداری تا پیش از اعلام حکم ستره محکمه؛ سر خود را به مبارزه با شبه‌نظامیان در شمال این کشور گرم کرده بود. اکنون اما نه تنها زرداری بلکه بسیاری از اعضای کابینهٔ او باید به دنبال وکلای خبره‌یی بگردند که بتوانند، شر این دوسیهٔ فساد مالی را از سر آنها کم کنند. زرداری که پس از ترور بینظیر بوتو صدراعظم فقید پاکستان قدرت را در دست گرفته بود، همچنان بر حفظ سمت خود به عنوان رییس‌جمهور تاکید دارد و دوسیهٔ فساد مالی را شیطنت سیاسی یی می‌داند.

همزمان اما تمامی مخالفان زرداری از جریان‌های متفاوت سیاسی برای به پایین کشیدن او از قدرت دست دوستی داده‌اند. تمامی کسانی که روزی پرویز مشرف را در قدرت نمی‌توانستند تحمل کنند، اکنون کمر همت به حذف زرداری بسته‌اند. وزیر داخلهٔ پاکستان نخستین فردی است که قربانی لغو حکم آشتی ملی می‌شود. ستره محکمهٔ پاکستان حکمی مبنی بر آغاز تحقیق‌ها از او صادر شده است. رحمان مالک اما در نخستین واکنش به این اظهارات اعلام کرد که دولتش تا آخرین لحظه ایستاده گی خواهد کرد و خبری از استعفا نیست.

همزمان، زرداری هم تلاش‌های گسترده یی را برای جلب حمایت متحدان سیاسی خود آغاز کرده‌است. هر چند زرداری تا زمان حضور در قدرت، از مصونیت قضایی برخوردار است، اما فشارها بر وی برای استعفا افزایش یافته است.وزیر داخلهٔ پاکستان در گفتگو با خبرنگاران با رد اتهام فساد مالی علیه خود گفت: من به شما قول می‌دهم، روزی که خود را یک درصد در این دوسیه مقصر بدانم، شخصا استعفا بدهم.

این مقام پاکستانی به نیابت از دولت اعلام کرد که زرداری تا پایان دوران ریاست‌جمهوری خود، در قدرت باقی خواهد ماند و پس از آن، انتخاب ادامهٔ مسیر را به مردم در قالب انتخابات دموکراتیک واگذار خواهد کرد. بسیاری از تحلیلگران بین المللی بر این باور اند که بحران سیاسی به وجود آمده در پاکستان، در نهایت توجهٔ دولت این کشور را از مسایل امنیتی منحرف خواهد کرد. در حزب حاکم پاکستان، اما همه از حمایت از زرداری سخن می‌گویند. این حزب در بیانیه یی اعلام کرد که پس از حکم ستره محکمهٔ این کشور مبنی بر لغو پیمان آشتی ملی و لغو مصونیت قضایی مقام‌های این حزب هیچ کدام از رهبران حزب حاکم استعفا نخواهند کرد. اما جهانگیر بدر، منشی عمومی حزب مردم پاکستان در این خصوص گفت: در گفتگوهای بحران که توسط رهبری حزب برگزار شد، اعتماد کامل نسبت به رییس دولت اعلام شد.

نشست اضطراری به خاطر نجات زرداری:

با این وجود، دولت پاکستان با هدف رسیدن به آشتی ملی و جلوگیری از سقوط کابینه، نشست اضطراری برگزار کرده است.خبرگزاری فرانسپرس دیروز خبر داد، این نشست روز گذشته، به ریاست آصف علی زرداری، رییس جمهور پاکستان برگزار شد و هدف از آن، بررسی راه‌های ممکن برای جلوگیری از سقوط دولت وی بود.این نشست در حالی برگزار شد که پس از اقدام روزهای اخیر ستره محکمهٔ پاکستان، در فراخواندن دولتمردان به محکمه به دلیل فساد مالی و ممنوع الخروج شدن آنها از کشور، دولت این کشور در آستانهٔ سقوط قرار گرفت.

امریکا در پاکستان نیاز به متحد قوی دارد:

در همین حال، روزنامهٔ امریکایی لاس انجلس تایمز در خصوص بحران های اخیر پاکستان با نشر تحلیلی نوشت، درست در زمانی که اوباما نیاز به کمک برای مقابله با تردید پاکستانی ها دربارهٔ استراتیژی جدید خود در افغانستان دارد، یکی از متحدان او برای بقای سیاسی خود تلاش می کند.

این روزنامه در ادامه افزود، آصف علی زرداری" یکی از متحدان کلیدی امریکا در جنگ افغانستان محسوب می شود، اما وی به هیچ وجه در پاکستان محبوبیت ندارد و اکنون به نظر می رسد که زرداری در آستانهٔ از دست دادن قدرت سیاسی خود است. این روزنامه در ادامه می نویسد: درست ۱۵ ماه بعد از آغاز دورهٔ ریاست جمهوری، "آصف علی زرداری" هم اکنون از سوی اردو، احزاب مخالف و رسانه های پاکستان، تحت انتقادهای شدید قرار گرفته است. زرداری ثابت کرده که متحدی قابل توجه برای اوباماست و این مسأله را در همراهی با واشنگتن در حملهٔ طیاره های بدون سرنشین به نقاط مرزی پاکستان-افغانستان که با مخالفت مردم پاکستان همراه بود، می توان دید. در همین رابطه، کارشناسان مسایل پاکستان می گویند، در صورت سقوط زرداری قدرت به دست اردوی پاکستان می افتد. و این در حالی است که اردوی این کشور، از گذشته روابط چندان خوبی با امریکا نداشته است.لاس انجلس تایمز خاطر نشان می کند، زرداری در حالی در آستانهٔ سقوط قرار گرفته که به تازه گی برخی از مسوولیت های خود از جمله ریاست زرادخانهٔ هسته یی پاکستان را به دیگران واگذار کرده بود و قصد داشت، در روزهای آینده با پایان دادن به قدرت رییس جمهور در منحل کردن مجلس، برکناری صدراعظم و انتخاب لوی درستیز، رییس جمهور پاکستان را تبدیل به یک مقام نمایشی کند.با این حساب باید گفت، با سقوط زرداری کار برای اوباما مشکل می شود، زیرا امریکا برای تداوم اقدامات خود در مبارزه با القاعده و طالبان نیازمند کمک پاکستان است، اما با روی کارآمدن نظامیان در پاکستان، این همکاری به شکل کنونی نخواهد بود.

نبرد با زمان در افغانستان

منبع: ریل کلیر

ترجمه: سارا معصومی

تمامی شواهد در افغانستان حاکی از آن است که ضرب‌الاجل زمانی بارک اوباما به حقیقت نخواهد پیوست. هفتهٔ گذشته بود که امیرالبحر مایک مولن لوی درستیز امریکا، در کوچه و پس‌کوچه‌های قریه های پکتیکا با مقام‌های افغان قدم می‌زد. در همین مکان بود که معاون والی خطاب به مولن گفت: امیدواریم که همیشه اینجا بمانید.

مولن در پاسخ گفت: متاسفم. این امیدواری به نتیجه نخواهد رسید. ایالات متحده، نیروهای بسیاری را برای بالابردن ضریب امنیتی در مناطقی مانند این قریه های دورافتاده به افغانستان فرستاده است، اما این نیروها هم ظرف ۱۸ ماه عقب‌نشینی را آغاز خواهند کرد. مدتی پس از این گفتگو بود که مولن در پاسخ به سوالی در این خصوص که آیا نگران استراتیژی جدید در افغانستان هست یا خیر؟ گفت: این زمان است که مهم است. آیا می‌توانیم، با همان سرعتی که می‌خواهیم حرکت کنیم؟

تیک تاک زمان در جریان یک هفتهٔ دیدار مولن از مناطق مختلف افغانستان و بازنگری در استراتیژی فرستادن نیرو به این کشور، همراه وفاداری برای او بود. مولن بیش از دوازده ایستگاه نظامی در حاشیهٔ شهرها دیدار کرده و در تمامی این مناطق، همان سخنان یکسان را تکرار کرد: استراتیژی جدید ما موثر واقع خواهد شد. البته چالش ما در افغانستان بسیار جدی است و زمان اندک.

من در مدت زمان همراهی با مولن در این سفر، فرصت بالا و پایین کردن شانس پیروزی اوباما را داشتم. بهترین برداشت من این بود که برنامهٔ بارک اوباما برای واگذاری مسوولیت‌های امنیتی به افغان‌ها در جولای ۲۰۱۱ بسیار خوش‌بینانه است. اگر همه پیش‌بینی‌ها بی‌نقص عملی شود، نیروهای افغان در آن زمان از قدرت کافی برخوردار خواهند بود، اما باز هم به کمک امریکاییان نیاز خواهند داشت. بهتر است، ماجرا را از برنامهٔ اوباما برای فرستادن ۳۰ هزار عسکر جدید به افغانستان تا تابستان آیندهٔ میلادی آغاز کنیم. به نظر نمی‌رسد که این اتفاق رخ دهد. دیوید رودریگس که معاونیت قوماندانی ارتش را بر عهده دارد، نسبت به رسیدن این تعداد نیرو به افغانستان تا ماه نومبر چندان امیدوار نیست.

مولن اما در این میانه معتقد است که تا ماه جولای حداقل ۱۶۰۰۰ سرباز به افغانستان خواهند رسید. البته مولن امیدوار است که قوماندانانش برنامهٔ دومی هم در چنته داشته باشند؛ چرا که به باور او زنده گی همیشه روی خوبش را نشان نمی‌دهد. بازسازی لوژستیک شاید مهمترین بخش از این عملیات باشد. اردو باید همه وسایل مورد نیاز اردو را منتقل کند. ۳۰ هزار سرباز تازه‌نفس به افغانستان می‌روند و سه طیاره باید برای پذیرایی از آنها تجهیز شود.

مولن در باب فراهم کردن فضا برای حضور نیروهای بیشتر در این مورد می‌گوید: ما قرار نیست، تا ابد در اینجا بمانیم. بنابراین، نیاز به ساخت و سازهای جدی برای اقامت سی‌ساله یی هم نداریم. پس از آن، نوبت به افزایش ضریب امنیتی نیروهای افغان می‌رسد. اما پافشاری بر قطع کامل امید افغان‌ها از امریکاییان، اشتباه بزرگی است. مولن در دیدار با سربازان امریکایی در قندهار نیز به این موضوع اشاره کرد و گفت: افغان‌ها باید در حوزه‌هایی که توانایی آن را دارند، برقراری امنیت را بر عهده بگیرند. رسیدن به همین نقطه هم بسیار وقت‌گیر خواهد بود.

مسألهٔ دیگری که باید مورد بازنگری قرار گیرد، مبارزه با فساد از سوی دولت است. مولن در دیدار با مقام‌های شورای محلی در قندهار به این نتیجه رسید که اصلی‌ترین مشکل افغانستان امروز همین فساد دولتی است. یکی از چهره های محلی در این مورد گفت: فساد در جامعهٔ افغانستان به سرطان می‌ماند. این بیماری تمام بدنهٔ افغانستان را درگیر کرده است. ما باید همه را به پای میز محاکمه بکشیم.

مولن نیز وعدهٔ مبارزه با این امر را داد. اما خبر ص۳

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۰۰۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com